عمومي اسامبله
د امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۱۰ مارچ ۲۰۰۹

اصل: انګلیسي

عمومي اسامبله
دري شپېتمه ناسته
د اجنډا ۱۷ موضوع
**په افغانستان کې وضعیت**

**د امنیت شورا**
**څلور شپېتم کال**

**د افغانستان وضعیت او نړیواله سوله او امنیت باندې یې اغیزې**

د سرمنشي راپور

**لومړی: سریزه:**

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۱۸/۶۳ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۱۸۰۶ (۲۰۰۸) ګڼه پرېکړه لیک سره سم وړاندې کیږي چې په کې پریکړه شوې چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما ) د ۲۰۰۹ کال د مارچ تر ۲۳ پورې وغځیږي. دا راپور زما د ۲۰۰۸ د ۲۳ سپتمبر د میاشتې راپور (A/63/372- S/2008/617) را پدې خوا په افغانستان کې وضعیت او د یوناما پر فعالیتونو باندې بیاکتنه کوي.

**دویم: عمومي کتنه**

۲. په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان حکومت، امنیتي ځواکونه او وګړي، د خپلو نړیوالو شریکانو سره ، د یوې جدي آزمایښت سره مخ دي. امنیت لا پسې خراب شوی دی. په داسې حال کې چې افغانان د وچکالۍ او په نړیواله کچه د خوراکي توکو د بیو د لوړیدو له اغیزو سره مخ دي، د حکومت او نړیوالو مرستو د هڅو پایلې په خلکو کې د اړوند تمې کچه کموې. د قانون واکمني په کافي اندازه بنسټیزه نه ده شوې او نړیوال بشري قانون ته درناوي، بشري حقونو او د تیرو سرغړونو حساب ورکول، د ثانوي مسئلو په توګه لیدل کیږي. د روڼتیا نړیوال سازمان په ۲۰۰۸ کې د اداري فساد په اړه په خپل راپور کې افغانستان، د اداري فساد له اړخه د نړۍ تر ټولو بدو هېوادونو کې درجه بندي کړی دی.

۳. په راتلونکو شپږو میاشتو کې د باوري ټاکنو له لارې د حکومتي واک بیا مشروعیت ترلاسه کول او همدارنګه د بنسټیز نظم دوام چې د بن پروسې له مخه رامنځته شوی و، د ګواښ سره مخ دی.

۴. ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو ټاکنې د ۲۰۰۹ کال په دوبي کې پلان شوي دي. د ټاکنو نېټه چې د لوژیستیکي، مالي او امنیتي دلایلو له کبله د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د ولسمشریزې دورې له پای ته رسیدو درې میاشتې وروسته، د ۲۰۰۹ د اګست د میاشتې پر ۲۰ نېټه ټاکل شوې ده، د ۲۰۰۹ کال د مې میاشتې د ۲۲ نېټې وروسته د ولسمشر د مشروعیت په اړه قانوني ناڅرګندتیا رامنځته کړې.

۵. په دې اړه عمومي توافق شته چې د حکومت مخالف ډلو له خوا پیدا شوې ناامني یوازې له پوځي لارو نه شي حل کیدای. د ټاکنو وړاندې، پخلاینه باید د ټول شموله سیاسي پروسې برخه وي. دا باید د افغانانو په مشرۍ وي، د کلیدي افغان او نړیوالو شریکانو له پراخې اجماع څخه برخمن وي، اساسي قانون ته درناوی ولري او د پوځي او سیاسي ځواک له موقف څخه تعقیب شي. روان بنسټیز بحث په دې شرطونو باندې د پرمختګ لامل ګرځي خو د پخلاینې هراړخیزه ستراتیژۍ ستونزمنه کوي.

۶. سیاسي او پوځي هڅې باید د افغانستان د پراختیایي تګلارې د ملاتړ لپاره د لا پیاوړي ژمنې او په زیاته همغږۍ سره بشپړې شي. د پاملرنې او سرچینو زیاتوالی چې افغانستان په وروستیو میاشتو کې ترلاسه کړی دی، د ښه راغلاست وړ دی خو د تیرو اوو کلونو تجربې ته په کتو سره، دا یوازې کافي ندی. سرچینې باید د همغږۍ او هراړخیز پلان له مخې په هوښیارۍ سره په دې ډول وکارول شي چې ټول افغانان د خپل راتلونکې مسؤلیت په غاړه اخستلو توان پیدا کړي. د دې پلان اصل د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کې د پاریس په کنفرانس کې جوړ شوی وو او د ځانګړو هڅو له لارې د مرستو د موثریت د ښه کولو، د افغانستان د ظرفیتونو او بنسټونو د جوړولو، د هیواد د پراختیایي اړتیاوو په لومړیتوبونو باندې تمرکز، ولایتونو ته د مرستو د رسولو د ښه کولو او سیمه ییزو همکاریو ته د وده ورکولو په برخو کې څرګندیږي.

۷. زما ځانګړی استازی، کای ایدې او د یوناما کارکونکو د یوناما د ماموریت د تطبیق لپاره فشار راوړی دی. په مهمو مسئلو کې، نړیوالو فعالانو او افغان حکومت دغو هڅو ته مثبت ځواب ورکړ. په پایله کې، ځینې اوږدمهالې ستونزې اوس حل کیږي. د بیلګې په توګه، د افغانستان د دفاع وزارت او د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ایساف) تر منځ هوکړه لیک، چې پر ملکي وګړو د پوځي عملیاتو ناوړې پایلې په پام کې ونیول شي، د کلیدي وزارتونو پیاوړتیا، د همغږۍ منظم میکانیزمونه، د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې پرمختګ او د ښه شویو سیمه ییزو اقتصادي همکاریو ځینې محسوسې لاسته راغلې ګټې شامل دي. خو د ماموریت د رول اغیزمنتوب د نورو لخوا پر همغږي لیوالتیا پورې اړه لري. د نړیوالو مرستو لویه برخه د افغان حکومت او یا د ملګرو ملتونو له چینلونو بهر مصرفیږي. په همدې ډول، د یوناما د ملکي-پوځي همغږۍ ماموریت پلي کول د هغو ۴۱ هیوادونو په لیوالتیا پورې اړه لري چې د ملګرو ملتونو سره کار کولو لپاره ایساف سره مرسته کوي.

**دریم: مهم سیاسي بدلونونه**

**الف: ټاکنې**

۸. راتلونکو ټولټاکنو افغانستان کې سیاسي فضا جوړه کړې او پرې مسلط دي. د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ په ۲۸ نېټه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې ولسمشرېزو او د ولایتي شوراګانو ټاکنې به د اګست په ۲۰ نېټه ترسره شي. کمیسیون د ټاکنو "نړیوالتیا، عدل او روڼتیا" اړتیا ته اشاره وکړه، چې په پسرلي کې د ټاکنو ترسره کول به له خطر سره مخ وي، ځکه د جغرافیې او اقلیم له امله د راپې ورکوونکو لویه برخه رایه اچونې ته لاسرسی ونلري.

۹. د پارلمان ځینو غړو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړې په وړاندې غبرګون وښود او وې ویل چې د اساسي قانون له مخې د ولسمشرۍ دوره د مۍ د میاشتې په ۲۲ پای ته رسیږي او د اګست د میاشتې پر ۲۰ نیټې ټاکنې تر سره کول به د اجرایوي واک درې میاشتنۍ خلا رامنځته کړي. د فبرورۍ د میاشتې په ۲۸ نېټه، ولسمشر کرزي د یوه فرمان په صادرولو سره له کمیسیون څخه وغوښتل چې د اساسي قانون له ټولو اړوندو مادو سره سم د ټاکنو ترسره کیدو ډاډ ورکړي. په رسنیو کې دا په دې معنی تعبیر شو چې ټاکنې باید د مۍ میاشتې څخه مخکې ترسره شي. د مارچ د میاشتې په ۴ نېټه، کمیسیون د یوه وینا په ترڅ کې د اګست د میاشتې پر ۲۰ نېټه، د ټاکنو ترسره کولو د خپلې پخوانۍ پریکړې پخلی وکړه.

۱۰. د ټاکنو خپلواک کمیسیون له تخنیکي پلوه د ملګرو ملتونو (د سبا لپاره د حقوقي او ټاکنیز ظرفیت د لوړولو د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام پروژې) لخوا او له مالي پلوه، د نړیوالو تمویل کوونکو لخوا ملاتړ کیږي. د رایه ورکوونکو نوم لیکنه د ۲۰۰۸ د نومبر د میاشتې په لومړیو کې پیل او د ۲۰۰۹ د فبروري د میاشتې په ۲۰ نېټه پای ته ورسیده. دا بهیر د لږو امنیتي پیښو سره مخ شو. د کمیسیون د شمیرو له مخې، ۴۴۱۹۲۷۵ رایه ورکوونکو (چې ۳۸ سلنه یې ښځې وې) نوم لیکنه وکړه چې د ډیرو ناکرارو ولایتونو ۵۴۶۵۳۳ رایه ورکوونکي هم پکې شامل دي. د نوم لیکنې بهیر، هغو رایه ورکوونکو ته چې کارتونه یې له لاسه ورکړي وو، په هیواد کې دننه کډه شوي وو او یا د ۲۰۰۵ کال څخه وروسته د راپې ورکولو وړ شوي وو، د بیا نوم لیکنې زمینه برابره کړه. هغه رایه ورکوونکي چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو ټولټاکنو لپاره یې نوم لیکنه کړې او لا تر اوسه کارتونه لري، کولی شي راتلونکي انتخاباتو کې له هغو کارتونو څخه کار واخلي. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو کې د نوم لیکنې په بهیر کې، نږدې ۱۱ ملیونه رایه ورکوونکي راجستر شوي؛ په ۲۰۰۵ کې، ۱.۷ ملیون د راپې ورکولو کارتونه صادر شوي. دې ته په پام سره چې تر اوسه په افغانستان کې سرشمیرنه نه ده ترسره شوې، د واجد شرائط رایه ورکوونکو د شمیر لپاره کره بنسټ نشته او د رایه ورکوونکو د ثبت سمه ارزونه، او په پایله کې په ټاکنو کې د رایه ورکوونکو د ګډون کچه معلومول، له ستونزو سره مخ کوي.

۱۱. د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې له بشپړیدو سره، د ټاکنیز بهیر لپاره پلان جوړونه ګړندۍ شوه. د جنوري په ۱۹، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو لګښتونو لپاره نړیوالو ډونرانو ته نږدې ۲۲۰ ملیون ډالر بودیجه وړاندې کړه. د سبا لپاره د حقوقي او ټاکنیز ظرفیت د لوړولو د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام پروژې لخوا چمتو شوي تخنیکي ملاتړ سربیره، یوناما په خپل سیاسي ځانګه کې یو واحد رامنځته کوي ترڅو د سیاسي ګوندونو، څارونکو، د مدني ټولنې سازمانونو او نورو ډلو او بنسټونو سره کار وکړي تر څو د امکان تر حده، داسې سیاسي فضا رامنځته کړي چې د آزادو او عادلانه ټاکنو لپاره مساعده وي.

۱۲. د راپور په موده کې، ملي شورا پر مهمو ملي مسایلو لکه د رواني ناامنۍ، بشري مسلو او د ټاکنو د نیټې په اړه بحث وکړ. شورا خپل د نظارت رول ته ادامه ورکړه او په عمومي ډول د اصلاحاتو د بهیرونو او اصلاحات پلوو وزیرانو ملاتړ څرګند

کړ. شورا د کرنې، پوهنې او کورنيو چارو د وزارتونو لپاره د ولسمشر کرزي نوماندان تاييد کړل، خو د خوراکي او سون توکو بيې کنټرولونکې ډلې سره د تړاو له امله د سوداګرۍ او صنايعو پخواني وزير ته د باور رايه ورنکړه.

**ب: سيمه ييز چاپيريال**

۱۳. سيمه ايزې اقتصادي همکارۍ ته ډير پام شوی. د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۱۴ په پاريس کې د بهرنيو چارو د وزيرانو په کچه په يوه غير رسمي غونډه کې، افغانستان، ګاونډيو او مهمو نړيوالو شريکانو موافقه وکړه چې د ۲۰۰۹ په اپريل کې په اسلام آباد کې د سيمه ييزو اقتصادي همکاريو کنفرانس لپاره په ټاکلي وخت کې د لومړيتوبونو مشخصې پروژې په ګوته کړي. له ازبکستان سره د يو هوکړه ليک وروسته د هيواد په شمال کې د بريښنا د ليږد د مزي غځولو کار بشپړ شو چې په پايله کې يې د کابل ځينو برخو ته نږدې په بشپړه توګه د بريښنا بيارغونه وشوه. د افغانستان له شمالي ګاونډيو سره د انرژۍ او اوبو د مديريت د اضافي پروژو پر طرحې کار روان دی.

۱۴. په سيمه کې، په ځانګړې توګه له پاکستان سره، د سياسي همکاريو په برخه کې پرمختګ شوی. د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ د مياشتې په ۹ نېټه د پاکستان ولسمشر آصف علي زرداري افغانستان ته خپل لومړنی سفر وکړ او هلته يې له ولسمشر کرزي سره وکتل، که څه هم دواړو ولسمشرانو تر دې دمخه څو ځلې سره ليدلي وو. د دواړو هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو يوه ګډه اعلاميه خپره کړه چې په خپلو اړيکو کې يې د "نوي ليدلوري څپرکي" غوښتنه او ژمنه يې وکړه چې نړيوال ملاتړ سره به "له سيمې څخه د اوريکۍ، سخت دريځۍ او ترهګرۍ ګواښونو سره مبارزه وکړي او په بشپړه توګه يې لمنځه يوسي".

۱۵. دې نوې اړيکې، د سولې جرګې بهير په شان د نوښتونو بيا پيلولو ور پرانست. پاکستان خپل ۲۵ غړي جرګګۍ ته معرفي کړل، د افغانستان-پاکستان ګډه جرګګۍ چې د دې پروسې د پرمخ بيولو دنده پر غاړه لري؛ جرګګۍ د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر د مياشتې په ۲۷ او ۲۸ نېټه په اسلام آباد کې غونډه وکړه، اوريکۍ او ترهګرۍ يې د ګډو ګواښونو په توګه وپېژندل چې همغږي غبرګون ته اړتيا لري، او په دواړو هيوادونو کې د مخالفو ډلو سره د خبرو پر اړتيا ټينګار وکړ.

۱۶. د جنورۍ د مياشتې په ۲ نېټه، د پاکستان د پوځ لوی درستيز جنرال پرويز کياني د درې اړخيز کميسيون په شپاړسمه غونډه کې چې د افغانستان، پاکستان او ايساف استازو په ګډون د سيمه ييزو پوځي همکاريو نهاد دی، برخه واخيسته.

**ج: ګډه کړنلاره**

۱۷. د نړيوالې ټولنې او افغان حکومت له خوا د ملکي او نظامي سرچينو د لا همغږې او اغېزمنې استفادې د تضمين لپاره يوه مدغم کړنلاره طرحه او آزمويل کيږي. دا کړنلاره د دې حقيقت پر بنسټ ولاړه ده چې په ټول هيواد کې د امنيت او حکومتولۍ بيلابيلو شرايطو په وړاندې د مرستو مختلفو غبرګونونو ته اړتيا ده. د افغانستان په نسبتاً باثباته شمال او لوېديځ

کې، چې تر زیاته حده له کوکنارو پاکه ده خو بېوزلي ځپلې دي، اصلي تمرکز باید پر اقتصادي پراختیا وي. په ناامنه سهیل او ختیځ کې، چیرې چې حکومتي اداري لږ شتون لري، د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړول او حکومت سره د ټولنو نښلول یوه ننګونه ده. پمنځ کې، داسې سیمې شتون لري چې امنیت یې خراب شوی خو د پولیسو، عدالت او حکومتولۍ په برخو کې ګډې ښکیلتیاوې کولی شي وضعیت لاپسې کړي. په ټولو برخو کې، مدغم کړنلاره د لاندې ګډو اصولو پر بنسټ ولاړه ده: د افغان حکومت ریښتینی مشر باید شتون ولري؛ خالص پوځي لاره د هیواد د بې ثباتۍ حل ندی؛ او ملکي او نظامي سرچینې هغه ځای کې وکارول شي چیرې چې اغېزه یې ډېر زیات وي. چیرته چې پوځي سرچینې د بشري مرستو لپاره کارول کیږي، باید د بشردوستانه اصولو او هوکړه شویو لارښوونو سره سم اداره شي.

۱۸. د ګډې کړنلارې کاري ډله چې د ۲۰۰۸ په نومبر کې رامنځته شوې او د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکه اداره، یوناما، ایساف او کلیدي تمویل کوونکې سره یوځای کوي، د لومړیتوبونو ټاکل او د فعالیتونو ترتیب ورکول پیل کړی. دغه ډله ۵۱ مهمې ولسوالۍ په ګوته کړې، چې له دې جملې څخه په ۵ ولسوالیو کې د سیاسي پېژندګلوۍ او ګډې ارزونې کار ګړندۍ شوی دی. د اړوندو پراختیایي فعالینو سره په مشوره، دغې ارزونې د همغږۍ پروګرام جوړولو او د مرستې رسولو لامل به شي.

**څلورم: امنیت**

۱۹. د ملګرو ملتونو د احصایو له مخې، د ۲۰۰۱ کال راهیسې، ۲۰۰۸ کال په افغانستان کې د تاوتریخوالو تر ټولو ډک کال و، چې پکې د ۲۰۰۷ کال په پرتله ۳۱ سلنه زیاتې پېښې رامنځته شوې. د ۲۰۰۸ کال په دویمه نیمایي کې په اوسط ډول هره میاشت ۸۵۷ پېښې ثبت کېدل، چې په لومړیو شپږ میاشتې په موده کې په میاشت کې ۶۲۵ پېښې رامنځته شوې وې. معتدل ژمی د لوړې کچې تاوتریخوالی لپاره چاپیریال چمتو کړی چې په دغه وخت کې په دودیز ډول په جګړو کې کمښت لیدل کیږي. په ځانګړې توګه، د ۲۰۰۸ کال په ډسمبر کې، د ۲۰۰۷ کال د ډسمبر په پرتله ۴۲ سلنه زیاتې پېښې وې، او د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ د میاشتې په پرتله، د ۲۰۰۹ په جنورۍ کې ۷۵ سلنه ډېرې پېښې رامنځته شوې.

۲۰. په تیر راپور کې پیژندل شوې دوه رجحانات نور هم خراب شوي: د یاغیانو لخوا د مخکې باثباته سیمو د بې ثباته کولو هڅې او د ملکي خلکو ژوند ته د زیاتیدونکې نه پاملرنې سره د یاغیانو لخوا د ډیرو پیچلي غیر متناسب بریدونو کارول دي.

۲۱. په دې بریدونو کې وژنې، تهدیدونه، اختطافونه، توغندیز بریدونه، د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول او ځانمرګي بریدونه شامل وو چې پکې په زیاتیدونکې توګه ملکي مامورین، دیني عالمان، مرستندویه ټولنې او د سړک جوړونې پروژې په نښه شوي دي. د ۲۰۰۸ کال په دویمه نیمایي کې د هر ډول پیښو شمیر زیات شو، او دا ډول پیښې د ۲۰۰۹ تر پیله دوام درلود، چې په کابل کې د فبرورۍ د میاشتې په ۱۱ نیټه د څو وزارتونو په وړاندې همغږي شوي وسله وال او ځانمرګي بریدونه شامل دي.

۲۲. د اکتوبر په میاشت کې په کابل کې د نړیوالې مرستندویه موسسې د یوې ښځینه کارکوونکې ترور او د نومبر په میاشت کې هم په کابل کې د یوې بلې نړیوالې مرستندویه ادارې کارکوونکې له تښتولو سره د اورپکو له خوا د نړیوالو مرستندویه موسسو نېغ هدف ګرځونه دوام درلوده. ملګري ملتونه هم مستثنی نه دي چې د کال په اوږدو کې د مختلفو ډولونو یو شمېر پیښو سره مخ وو.

۲۳. حکومت مخالفو ډولو باثباته سیمو کې خپل حضور پراخ کړی. شمال لوېدیځ ولایت بادغیس او ګاونډی فاریاب د ژمي په رارسېدو سره د جګړې په ډګر بدل شوي او د وسله والو مخالفینو په فعالیتونو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د بېلګې په توګه، د نومبر په میاشت کې د بادغیس ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او پولیسو پر یوه کاروان د برید په پایله کې کاروان نږدې په بشپړه توګه تباه شو، ۴۰ افغان امنیتي ځواکونه ووژل شول او تر سلو زیات یرغمل شول. په دغو سیمو کې چې مخکې د تګ راتګ وړ وې، د مخالفو عناصرو د شتون زیاتوالي بشري او پرمختیایي هڅې په جدي توګه له خنډ سره مخ کړې.

۲۴. د راپور د مودې په اوږدو کې، د بې وسلې ملکي کارکوونکو د حرکت آزادي د سختې جګړې او د ډارولو او وژنو د غټ کمپاین له امله لږ شوې. د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر تر میاشتې پورې، د هیواد د نږدې ۴۰۰ ولسوالیو څخه ۲۳۱ ولسوالیو کې د تګ راتګ ستونزې نه وې، ۱۰ ولسوالۍ په بشپړه توګه د حکومت له ولکې څخه بهر ګڼل کېدې او ۱۶۵ ولسوالیو ته لاسرسی ګران یا ستونزمن وه. پداسې حال کې چې د هغو ولسوالیو شمېر کې چې ملکي کارکوونکي ورته نږدې یا په بشپړ ډول لاسرسی نلري د ۲۰۰۷ راهیسې د پام وړ بدلون نه دی راغلی خو شاوخوا ۳۰ ولسوالۍ د لاسرسي له لاسه ورکولو له خطر سره مخ دي. په همدې شان ولسوالیو کې یوناما، له حکومت او ایساف سره په ګډه مدغم کړنلاره پرمخ وړي.

۲۵. اوس مهال داسې نه ښکاري چې امنیتي وضعیت د ۲۰۰۹ کال له دوبي څخه مخکې به ښه شي. ناامني احتمالاً د زیاتیدو په حال کې به وي، او لکه څنګه چې غیر متناسب بریدونه زیاتیږي، وسله والو نښتو سره د مرستندویه پرسونل خوندیتوب به نور هم خراب شي. د دې عوامل راتلونکي ټاکنې، د نړیوالو نظامي ځواکونو د زیاتوالي په پایله کې د پیښو احتمالي ډیرښت، په افغانستان کې د بهرنیو جهادي جنګیالیو د زیاتوالي راپورونه او د مخالفو عناصرو هدفونه دي چې په ټول هیواد کې د حکومت او پوځي لوژیستیکي اکمالاتو مخه به ونیسي، او دا هغه لاره ده چې د بشردوستانه او پرمختیایي پروګرامونو لپاره هم کارول کیږي.

**پنځم: امنیتي سکتور او د قانون حاکمیت**

**الف: افغان امنیتي ځواکونه**

۲۶. د افغانستان ملي اردو اوس مهال د دوو څخه تر څلورو لواګانو پنځه قول اردو لري، چې د سیمه ییزې قوماندې په توګه کار کوي او د ایساف سیمه ییزې قوماندې ته ورته دي. لس ولایتونو کې دایمي شتون نه لري. د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر کې، د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ تر ۲۰۱۱ کال پورې، د ملي اردو د سرتیرو شمېر د ۸۴۰۰۰ څخه ۱۳۴۰۰۰ سرتیرو ته لوړول

تصويب کړ. د افغانستان ملي اردو د تاکتيکي محاربوي عملياتو د پلانولو، ترسره کولو او رهبري کولو وړتيا ښه کړې ده. ملي اردو د رايه ورکوونکو د نوم ليکنې په پړاوونو کې په برياليتوب سره ګډ او مشترک عمليات ترسره کړل، او د ۲۰۰۸ کال د اګست له ۲۸ نېټې راهيسې يې په کابل او په زياتيدونکي ډول په ولايتونو کې د امنيت د مشرۍ مسؤليت په غاړه اخيستی دی.

۲۷. د افغانستان د ملي پوليسو د پياوړتيا لپاره د هڅو بنسټيز عنصر د ولسواليو متمرکزه پراختيا پروژه ده، چې ولسواليو څخه پوليس ځواکونه د سختې روزنې لپاره کابل ته راولي او بيا يې په خپلو ولسواليو کې ځای پرځای کوي. د ۲۰۰۸ کال د اکتوبر راهيسې، دغه پروګرام ۲۱ ولسوالۍ تر پوښښ لاندې راوستي دي، چې په دې سره د هغو ولسواليو شمير چې د پوليس ځواکونه يې بيا روزل شوي ۵۲ ته رسيدلی. دا پروژه د نړيوالو پوليسو روزونکو او ښوونکو د نشتوالي له امله محدوده شوې ده.

۲۸. د پوليسو اصلاحات د کورنيو چارو په وزارت کې د فساد ضد اقداماتو پيلولو او د افغان ملي پوليسو د کشفي او تحقيقاتي ظرفيتونو پياوړې کولو ته اړتيا لري. په لويو ښارونو او لويو لارو کې د امنيت ښه کول او د ۲۰۰۹ کال د ټاکنو په آزاده، عادلانه او رښه توګه ترسره کول د کورنيو چارو د نوي وزير لنډ مهالي لومړيتوبونه دي. د هرې موخې په لور پرمختګ به د نړيوالو پوليسو د همغږۍ بورډ لخوا وڅارل شي. د پوليسو افسرانو لپاره مالي هڅونې، د عمومي معاشاتو د لوړولو او په ناکرارو سيمو کې دنده ترسره کوونکو پوليسو لپاره د خطر معاشونو ورکولو آزمايښتي برنامې په توګه ډيرې شوي.

**ب: نړيوال ځواکونه او ملکي - نظامي همغږي**

۲۹. اوسمهال ايساف د ناټو سازمان ۲۶ او غير ناټو ۱۵ هيوادونو څخه نږدې ۵۵۰۰۰ سرتيري لري. داسې اټکل کيږي چې د ايتلافي ځواکونو پرسونل چې د متحده ايالاتو تر قوماندې لاندې فعاليت کوي شاوخوا ۱۴۰۰۰ وي. د افغانستان د امنيتي ليږد ګډه قومانداني، چې له قوله يې د قراردادي ملکي روزونکو او ښوونکو په ګډون د ۷۰۰۰ څخه ډير غړي لري، د ملي اردو او ملي پوليسو د پراخولو سره د مرستې مسوليت لري.

۳۰. په سپتمبر ۲۰۰۸ کې، «په افغانستان کې د متحده ايالاتو ځواکونه» تر نامه لاندې په هيواد کې د متحده ايالاتو د ځواکونو لپاره د قوماندې او کنټرول مرکز، د ايساف قوماندان جنرال مک کيرنن په مشرۍ پرانستل شو. د قوماندې د دې يووالي سره، تمه کيږي چې د ايساف دننه او بهر د متحده ايالاتو د واحدونو ترمنځ همغږي بهتره شي.

۳۱. د مخکې ذکر شوې يو موټې کړنلار برسيره، د راپور په موده کې د ملکي-پوځي همغږۍ په برخه کې اضافي پرمختګونه شوي. د افغانستان حکومت د ولايتي بيارغونې ټيم کاري ډلې او د اجرايوي رهبرۍ کميټې مشري په غاړه واخيسته. د ۲۰۰۷ کال د جون د مياشتې څخه وروسته، د رهبري کميټې لومړۍ غونډه د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ د مياشتې په ۲۹ نېټه جوړه شوه. يوناما ته بلنه ورکړل شوې وه چې د ناټو د پوځي کارکوونکو لپاره له ګمارنې وړاندې روزنه کې برخه واخلي. زما د ځانګړي استازي، د هغه د کارکوونکو او د يوناما د نظامي همکارانو تر منځ منظمې ناستې د لوړ پوړو اړيکو چينل چمتو کړی دی. د بشردوستانه

فعالينو او نظامي فعالينو د همغږۍ په اړه د افغانستان لپاره ځانګړې لارښوونې رامنځته شوي او پرې هوکړه شوې، خو اړتيا ده چې په ښه توګه خپره او پلي شي.

.۳۲ بل مثبت پرمختګ د ۲۰۰۸ کال په سپتمبر او دسمبر مياشتو کې د جنرال مک کيرنن لخوا د دوو لارښوونو صادرول وو. د دې لارښوونو موخه د ملکي تلفاتو شمير کمول او د اړوندو معلوماتو راټولولو ښه کولو لپاره د ملکي تلفاتو د تعقيب واحد رامنځته کول وو. برسېره پردې، د ۲۰۰۹ کال د فبروري په ۱۳ نېټه، د افغانستان دفاع وزير عبدالرحيم وردګ او جنرال مک کين، په ګډه د همغږۍ يو تړون اعلان کړ چې له مخې يې به افغان ځواکونو ته د کورونو پلټلو او نيونو سرېيره د عملياتو په پلان جوړولو او اجرا کولو کې پراخه ونډه ورکړل شي.

.۳۳ د ملکي او نظامي همغږۍ د لا ښه والي په وړاندې اوس هم خنډونه شته. د ملګرو ملتونو لپاره، ننګونه دا ده چې يوه همغږې، پراخه کړنلاره بايد د بشري حقونو، سياسي، پرمختيايي، پوځي مشورتي او بشري هڅو په ګډون د سازمان ټولې اجنډاوې احاطه کړي. د ايساف پر اړخ، د پوځي پرسونل پرله پسې بدلون، د معلوماتو په شريکولو باندې محدوديتونه، د ايساف کمپونډ ته د لاسرسي محدوديت او د پلان کولو په طريقو کې توپيرونه پيچلي عوامل دي.

**ج: د قانون حاکميت**

.۳۴ د عدلي سکتور د اصلاح طرحه د ملي عدلي سکتور په تګلاره کې شامله ده چې د ملي عدالت پروګرام له لارې به پلې شي چې په دې برخو کې د حکومت او تمويل کونکو هڅو د اسانتيا لپاره ميکانيزمونه رامنځته کړي دي. يو له دغو ميکانيزمونو څخه د پروګرامونو د څار کميټه ده، چې د حکومت په مشرۍ د نړيوال بانک له خوا اداره کيږي او د عدليې سکتور د اصلاحاتو د پروژې د تطبيق څارنه کوي. د ۲۰۰۹ کال په جنورۍ کې رامنځته شوی د تمويل کوونکو بورډ، يو بل ميکانيزم دی چې حکومت سره مرسته کوي چې د تمويل کونکو ملاتړ د ملي عدالت پروګرام سره ونښلوي او د پروګرام د څارنې کميټې ته ستراتيژيک مشورې چمتو کړي.

.۳۵ د ولايتونو په کچه، د ملګرو ملتونو په مشرۍ د ولايتي عدالت د همغږۍ ميکانيزم په افغانستان کې د جنايي عدالت سيستم لومړنۍ حقوقي ارزونه بشپړه کړه، چې ۲۷ ولايتونه يې تر پوښښ لاندې راوستي دي. د دې ارزونې پايلې به د تمويل کونکو سرچينو د همغږي تخصيص ملاتړ وکړي.

.۳۶ له فساد سره د مبارزې د تګلارې تطبيق د څارنې عالي اداره په دې وروستيو کې په کابل کې خپل مرکزي دفتر پرانيست او له ولسمشر، سترې محکمې، لوی څارنوال او د عدليې له وزارت سره يې منظمې ناستې پيل کړې. لوی څارنوالۍ د فساد د دوسيو د اغېزمنې څېړنې په موخه له فساد سره د مبارزې اداره جوړه کړه او د فساد پر وړاندې يې کمپاين پيل کړ.

۳۷.	ستري محکمې، لوي څارنوالۍ او د عدلیې وزارت سره د منابعو د نشتوالي له امله د عدلي سکتور پرمختګ له خنډ سره مخ دی. دا بنسټونه وړ او تجربه لرونکي قاضیان او څارنوالان او همدارنګه کافي زیربنا نلري. په افغانستان کې توقیف ځایونه او زندانونه له جدي غفلت سره مخ دي. خو د دې بنسټونو د ملکي خدمتونو اصلاح پیل شوی دی. په ځانګړې توګه، د عدلیې وزارت د اداري اصلاحاتو د سمون او تشکیلاتو لومړیتوب لرونکي پړاو بشپړ کړی دی.

**د: ماین پاکي**

۳۸.	د حکومت او ملګرو ملتونو په ملاتړ، د افغانستان لپاره د ماین پاکۍ پروګرام د افغانستان په تړون کې د ټاکل شویو اهدافو په لور پرمختګ ته دوام ورکړ. د ۲۰۰۸ کال په دویمه نیمایي کې څه دپاسه ۴۲۰۰۰ د پرسونل ضد ماینونه، ۵۰۰ د ټانک ضد ماینونه او ۱.۵ میلیونه د جګړې پاتې ناچاودي توکي له منځه یوړل شول او د سلګونو ټولنو ځمکې یې د ماینونو له ګواښ څخه خلاصې کړې. شاو خوا ۸۰۰۰۰۰ افغانان د ماین د خطر زده کړه ترلاسه کړه. د ځمکنیو ماینونو څخه ژوندي پاتې کیدونکو او نورو معلولینو د حقونو لپاره د ملاتړ هڅې دوام درلودې.

۳۹.	په هلمند، کنړ او ارزګان ولایتونو کې د ټولنې په کچه د ماین پاکولو د پروژو پیل په ځانګړې توګه د پام وړ دي. دا فعالیتونه، چې د محدودو زیربناوو یا ملاتړ لرونکو محرومو ټولنو کې رواني دي، موخه یې د هیواد په سویلي او ختیځو سیمو کې مستقیمې ټولنیزې-اقتصادي ګټې او ثبات رامنځته کول ده. د ازبکستان څخه د بریښنا د لیږد د مزو په اوږدو کې د ماین پاکي د فعالیتونو په پایله کې د ۲۰۰۹ کال په فبرورۍ کې کابل ته بریښنا رسولو کې د پام وړ زیاتوالی راغی.

۴۰.	د دغو لاسته راوړنو سربیره، ماینونه په هیواد کې د انسانانو ژوند، سولې او امنیت ته یو لوی ګواښ دی او داسې اټکل کیږي چې اوس هم په افغانستان کې ۲۰۸۲ ټولنې له ماینونو څخه اغیزمن دي. د بودیجې د کمښت له امله پرمختګ د خنډ سره مخ دی، د اټکل له مخې په ۲۰۰۹ کې د ۵۳ ملیون ډالرو اضافي مالي وجهې ته اړتیا ده ترڅو د افغانستان تړون د معیارونو هدف ترلاسه شي.

**ه: د مخدره توکو سره مبارزه**

۴۱.	د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو دفتر په ګډه د ۲۰۰۹ کال د فبروري په ۱ نیټه د افغانستان د کوکنارو د ژمي د چټکي ارزونې راپور خپور کړ. سروې په ۲۰۰۹ کال کې د کوکنارو په کښت کې د احتمالي کمښت اټکل کوي چې په جنوب لوېدیځ او سوېل کې د کوکنارو د کرکیلې اصلي سیمو کې د کوکنارو کرکیلې کې د کمښت راتلو او له کوکنارو پاک شویو ولایتونو شمېر ۲۲ ته د رسیدو له امله وي. د کوکنارو کرل په عمده ډول په جنوب او جنوب لوېدیځ کې تر ټولو بې ثباته ولایتو پورې محدوده ده، لکه فراه، هلمند، کندهار، نیمروز، ارزګان، دایکندي او زابل.

۴۲.     د کوکنارو په کښت کې ورانده‌وینه شوی کمښت د ولایت په کچه د حکومت د اغیزمنو اقداماتو، د خوراکي توکو د بیو لوړوالی او د تریاکو د راټول شویو زیرمو له امله د بیو راټیټیدو له امله بلل کیږي. د کوکنارو په کښت کې د کمښت د دوام لپاره، د لمنځه وړلو اغیزمن نوښتونه باید د بدیل معیشت، له کوکنارو پاک ولایتونو کې د ښې حکومتولۍ لپاره زیاتي هڅوني، د مخدره توکو د لابراتوارونو ویجاړول، د چارواکو او قانون پلي کوونکو افسرانو کې د فساد سره مبارزه، او د مخدره توکو د قاچاقبرانو د محاکمې پروګرامونو سره یوځای شي.

۴۳.     د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په ۴ نېټه، د مخدره موادو سره د مبارزې د مرکزي محکمې د استیناف محکمې رئیس قاضي علیم حنیف په کابل کې ووژل شو. داسې قوي نښې شته چې د قاضي حنیف وژنه د نشه يي توکو پر وړاندې د هغه د رول په تړاو وه.

۴۴.     په افغانستان کې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې هڅې د سیمه ییزې تګلارې له مخې بشپړې شوې دي. د مخدره توکو او جرمونو په اړه د ملګرو ملتونو د دفتر "رینبو ستراتیژي" په سیمه کې د اپینو اکمال، قاچاق او مصرف کمولو لپاره یو لړ اقداماتو ته وده ورکوي. دې د امنیت شورا د ۱۸۱۷ (۲۰۰۸) پریکړه لیک په ملاتړ د ایران په اسلامي جمهوریت، پاکستان او قرغزستان کې د مخدره توکو کیمیاوي موادو د پام وړ ضبطولو کې رول درلوده. د ۲۰۰۸ کال په پای کې په تهران کې د ګډ پلان جوړوني د واحد جوړیدل افغانستان، ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان لپاره یو فرصت برابروي چې ګډ عملیات طرحه او د ناقانونه مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې استخباراتي معلومات تبادله کړي.

**شپږم: حکومتولي**

۴۵.     د ملګرو ملتونو د حکومتولي فعالیتونو هدف د ټولنیزو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د دولتي بهیرونو او بنسټونو پیاوړتیا دی. د دې فعالیتونو تمرکز د فساد سره د مبارزې او د دولتي بنسټونو د فعالیت د ښه کولو لپاره په لوړ پوړو ګمارنو کې روڼتیا، صداقت او تسلسل راوستل دي. د افغان حکومت د بنسټونو د پیاوړتیا لپاره روانې هڅې د تیر اکتوبر په میاشت کې وروسته له دې چې ولسمشر کرزي د کلیدي وزارتونو لپاره نوي وزیران وګمارل، نور هم زیاتې شوې. په تیرو څلورو میاشتو کې، د ولسمشر دفتر د نوي لوړ پوړو ګمارنو کمیسیون لپاره چې د ۲۰۰۸ کال په پای کې په اغیزمنه توګه په کار پیل کړ، بشپړ ملاتړ څرګند کړی دی.

۴۶.     د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د دولت د ظرفیت د لوړولو لپاره د هڅوني په موخه، په پنځو وزارتونو (کرهنې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا، مالیې، پوهنې او عدلیې) کې د معاشونو او رتبو له لارې د اصلاحاتو پلي کول روان دی. د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې په پنځو اضافي وزارتونو کې د اصلاحاتو راویستلو لپاره پلان جوړونه روانه ده.

۴۷.     په حکومتولۍ کې پرمختګونه په ځانګړې توګه په سیمه ییزه کچه اړین دي چیرې چې د خدماتو او مرستو چمتو کول، د حکومت د اغیزمنتوب او مشروعیت په اړه د ځایي خلګو انګیرنې یو عامل دی. د لاسرسي محدودیتونه د هیواد په ځینو برخو

کې د خدماتو په وړاندې کولو کې لوی خنډ دی، او همدا راز، د مرکزي حکومت لخوا په منظم ډول، د ولایتي پرمختیایي پلانونو سره سم د بودیجې په تخصیص کې ستونزې شته.

**اووم: د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي او د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ**

**الف: د مرستو همغږي او اغېزمنتوب**

۴۸. د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي او د پاریس په کنفرانس کې ټاکل شوي لومړیتوبونه په افغانستان کې د سولې د ټینګښت او پراختیا د اجنډا لپاره طرحه ده. زما د وروستي راپور راهیسې، ملګرو ملتونو د امنیت لپاره د امنیت، حکومتولي، د قانون حاکمیت او بشري حقونه؛ او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په برخو کې د دریو دایمي کمیټو په جوړولو سره د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د پیاوړتیا لپاره له افغان حکومت سره نږدې همکاري کړې ده. دا نوی جوړښت د دایمي مشورتي ډلو پخوانۍ پیچلې لړۍ تنظیموي. د دې لپاره، افغان حکومت د ۱۶ پلان شویو بین الوزارتي کمیټو څخه ۱۲ جوړ کړي چې په ټولو سکتورونو کې به تخنیکي همغږي ترسره کړي.

۴۹. د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ د ۲۰۰۸ کال د نومبر په ۳۰ نېټه غونډه وکړه او د مخدره موادو پر ضد مبارزې او د افغان امنیتي ځواکونو پر اصلاحاتو او حکومتولۍ یې تمرکز وکړ. بورډ همدا راز پریکړه وکړه چې ګډې هڅې د ملي پراختیا ستراتیژۍ پر پنځو مهمو سکتورونو متمرکز کړي: انرژي، کرنه، لوړې او حرفوي زده کړې، ظرفیت لوړول او د خصوصي سکتور پراختیا.

۵۰. د ملي پراختیا ستراتیژۍ او د پاریس لومړیتوبونو سره د بهرنۍ او اصلي بودیجې سمون یوه لویه ننګونه ده. د ۱۳۸۸ مالي کال په بودیجه کې چې د ۲۰۰۹ د مارچ له ۲۱ نېټې څخه پیل کیږي، د کرهنې، زیربنا او انرژۍ په برخه کې لومړیتوب لرونکي سکټورونو لپاره ډېره لږه بودجه تخصیص شوې ده.

۵۱. د کرهنې په برخه کې د پام وړ لږه پانګونه دوام لري. په ډېره، د اوبو لګولو نشتوالی پر لامل، د هیواد دکرنې وړ د ټول ۷.۹ ملیون هکتاره ځمکې څخه تر نیمایي لږ کرل کیږي. د جګړې څخه مخکې د اوبولګولو سیستمونه زیانمن شوي، په سلو کې ۲۵ موثریت سره کار کوي او د جګړې څخه مخکې یوازې یو پر دریمه برخه خړوبوي. د اوبولګولو ضعیف سیستم، د هیواد د کرهنیز صادراتي ظرفیت د پراختیا مخه نیسي.

۵۲. د دې ننګونو سربېره، په ځانګړې توګه د سیمه ییزو تخنیکي همکاریو په برخه کې د پام وړ پرمختګونه هم شته. د ۲۰۰۹ کال د فبرورۍ په میاشت کې تر ټولو مثبت بدلون، د کابل شمال لویدیځ برخو ته د نږدې بشپړ بریښنا بیا رغونه او نورو برخو ته د ورځې له ۱۲ څخه تر ۱۵ ساعتونو پورې د بریښنا چمتو کول وو، چې د ژوند کیفیت یې په ډراماتیک ډول ښه کړی. د تاجکستان سره یو وروستی تړون باید د ۲۰۱۰ تر دوبي پورې د لېږد په برخه کې د لا ښه والي لامل وګرځي.

۵۳. په کليوالي سکټور کې د نړيوالې ټولنې ډېره پانګه اچونه د ملي پيوستون پروګرام له لارې راغلې، چې د سيمه ييزو ټولنو لخوا پيژندل شوي او پلي شوي پروژو لپاره مالي ملاتړ چمتو کوي. د کرهنې د نوي وزير ټاکنه يو فرصت رامنځته کړ چې د ټولنې پر بنسټ پروژې، لکه د لويو اوبو لګولو پروګرامونه او نورې پروژې چې موخه يې د کرنيزو محصولاتو زياتوالی دی، د ملي پراختيا تګلارې د اهدافو سره وصل کړي. نوي وزير ژمنه وکړه چې د پسرلي د کرلو له فصل څخه مخکې به د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ په راتلونکې غونډه کې د وړانديزونو يوه بسته وړاندې کړي.

۵۴. يو شمير ستر زيربنايي پروژې هم بشپړې شوې. پدې کې د هلمند په کجکي بند کې د نوي توربين نصبول او د ۲۱۸ کيلومتره سړک کار بشپړول شامل دي چې د ايران په پوله د زرنج ښار له حلقوي سړک سره نښلوي. په سهيل ختيځ کې له ګرديز څخه تر خوست پورې د ۱۱۷ کيلومتره سړک کار بايد سږ کال بشپړ شي، چې د پاکستان له پولې سره نښلي. دا پروژې د مخالفو ډلو له سخت مقاومت سره او د انجينرانو، کارګرانو او امنيتي ساتونکو د ژوند په قيمت ترسره شوې او يا هم روانې دي. په نورو مهمو زيربنايي پروژو کې چې د ورته ګواښونو سربيره پلي کيږي، په لوګر کې د مسو د يو کان بيارغونه، په هرات کې د سلما بند او په فارياب او بادغيس کې د حلقوي سړک د څو برخو پخول شامل دي.

۵۵. يوناما د هيواد په ۳۴ ولايتونو کې د پرمختيايي مرستو ويش ارزولې او د دونرانو سره يې کار کړی ترڅو د هغوی د ونډو په اړه د معلوماتو لپاره يو واحد دولتي ډيټابيس جوړ کړي. په دې اړه به، د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ په راتلونکې غونډه کې يو وړانديز وړاندې شي.

**ب: د ملګرو ملتونو د هيواد په کچه ټيم**

۵۶. د ملګرو ملتونو د هيواد په کچه ټيم په داسې چاپيريال کې فعاليت کوي چې بايد پراختيايي او بشري پروګرامونه په موازي ډول پرمخ بوځي. د مخ په زياتيدونکو سختو امنيتي ننګونو سربيره، په دواړو جبهو کې پرمختګ شوی دی. د هېواد ټيم ۳۱ غړي د افغانستان د ملي پراختيا له ستراتيژۍ سره په همغږۍ کار کوي. د ملګرو ملتونو د پراختيايي مرستو د چوکاټ د مسودې د لومړيتوب ساحې چې پکې حکومتولي، معيشت او بنسټيز خدمتونه شامل دي، د پاريس د اجنډا له لومړيتوبونو لکه د کرنې، ظرفيت جوړونې، ښوونې او روزنې، د عايد توليد او ټولو افغانانو ته د خدمتونو ښه وړاندې کولو سره نږدې تړاو لري.

۵۷. د هيواد ټيم پريکړه وکړه چې د خپل خدماتو چمتوکول په دريو طريقو بدل کړي. دا به په سيمه ييزه کچه د خدماتو پر رسولو او پر کرهنې او د عايداتو فرصتونو باندې ډېر تمرکز وکړي او د پنځو څخه تر شپږو ډېرو باثباته ولايتونو کې د پروګرامونو همغږۍ ته وده ورکړي چيري چې د اړتياوو او مرستې ترمنځ توازن په ځانګړې توګه نا برابر دی.

۵۸. د استوګنې د همغږۍ دفتر د پاريس د اجنډا په رڼا کې د ملګرو ملتونو د ۱۸ ادارو د پروګرامونو بياکتنه وکړه. دا ومونده له چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ادارې اوسني پروګرامونو ټوليز ارزښت ۳.۵ مليارد ډالرو ته رسيږي. پدې کې د ادارو او

حکومتولۍ د پیاوړتیا لپاره ۱.۱ ملیارد ډالر شامل دي، د ډیموکراسۍ د پیاوړتیا او د ټاکنو د ملاتړ لپاره ۳۵۰ میلیونه ډالر؛ د خوړو خوندیتوب لپاره ۸۵۰ ملیون ډالر؛ د کرنې لپاره ۱۵۰ میلیونه ډالر؛ د هغو پروګرامونو لپاره ۶۰۰ ملیون ډالر چې موخه یې په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې، اقتصادي فرصتونه رامنځته کول او د معیشت ملاتړ کول ده؛ او د پوهنې او روغتیا سکټورونو لپاره هر یو ۲۰۰ ملیون ډالر، چې په ځانګړې توګه پر ظرفیت جوړونې تمرکز لري.

**اتم: بشري حقونه**

۵۹. افغانستان لا هم د بشري حقونو له جدي ننګونو سره مخ دی چې د اوږدمهالو ستونزو لکه ضعیفه حکومتولۍ،ژور معافیت، انتقالي عدالت ته نه پاملرنه، سخته بې وزلي او تبعیضي قوانین او کړنې (په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو په وړاندې) سره تړاو لري. دا ستونزې د وسله والو شخړو د زیاتیدو له امله پیاوړې شوې دي. د بیان پر آزادۍ مخ پر زیاتیدونکې محدودیتونه، د افغانستان په یوه سوله ییزې، ګڼ اړخیزې ټولنې ته بدلون په لار یو ګواښ دی.

۶۰. له واک څخه پراخه ناوړه ګټه اخیستنه، خپل سري توقیفونه او د عادلانه محاکمې تضمینونو ته د درناوي یا په عادلانه او خپلواکه توګه د کار کولو په برخه کې د قضايي قوې دوامداره پاتې راتلل، د معافیت د اوسنی کلتور په دوام کې مرسته کوي.

۶۱. د سولې، پخلاینې او عدالت لپاره د عمل پلان، په پیل کې ټاکل شوې موده کې د خپلو اهدافو په پوره کولو کې پاتې راغلی. د انتقالي عدالت د اجنډا بیا غښتلتیا یوه بیړنۍ ننګونه ده. حکومت او نړیواله ټولنه د افغانانو د لوی اکثریت، چې په مکرر ډول د یوې عادلانه او تلپاتې سولې لپاره خپلې هیلې څرګند کړې دي، د اندیښنو لرې کولو کې ځانګړې مسوولیتونه لري. ملګري ملتونه د هغو اقداماتو بیاکتنه کوي چې، د ډله ییزو قبرونو ځایونو سره د لاسوهنې د تورونو په ګډون د ادعا شویو جرمونو پورې اړوند مادي شواهدو خوندي کولو لپاره اړین دي.

۶۲. د دولتي او غیر دولتي فعالینو لخوا د ژورنالیستانو د ډارولو پرله پسې راپورونو سره د بیان آزادي خطرناک حالت کې ده. محکمې د بیان د آزادۍ د حق په ساتلو کې پاتې راغلي، لکه څنګه چې د سترې محکمې په استیناف کې مذهب ته د سپکاوي په دوو لویو قضیو کې د درنو سزاګانو ورکولو څخه څرګندیږي. د رسنیو قانون چې د ۲۰۰۸ په سپتمبر کې د پارلمان لخوا تصویب شو، مبهم احکام لري چې د سیاسي بحثونو د مخنیوي لپاره کارول کیدی شي. د راتلونکو ولسمشریزو او پارلماني ټاکنو پر مهال د بیان د آزادۍ تامین یوه لویه ننګونه ده.

۶۳. د اعدام د سزا بیا پیل کول، د مناسب بهیر او د عادلانه محاکمې تضمینونو کې ښکاره نیمګړتیاو ته په پام سره، د اندیښنې وړ دی. لږ تر لږه ۱۶ بندیان چې په جنایي جرمونو محکوم شوي وو د ۲۰۰۸ کال په نومبر او ډسمبر کې د دولت له خوا اعدام شول. اټکل کیږي چې ۱۱۰ نور بندیان د اعدام په سزا محکوم شوي دي. په اعدام محکوم شویو کسانو د حقونو

خوندي کولو لپاره د طرزالعمل او قضايي بهيرونو کې کافي ډاډ نشته؛ له همدې امله د مرګ سزا پلي کول د ملي او عامه امنيت په اړه د مشروع اندیښنو د حل کولو پر ځای د بې عدالتۍ د دوام خطر رامنځته کوي.

**الف: جنسيت**

۶۴. په عامه ژوند کې ښځې په زياتيدونکې توګه د ګواښونو او تهديدونو سره مخامخ شوي. د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په مياشت کې په کندهار کې د نامتو ښځينه لوړ پوړي پوليس افسرې وژنه، هغه ستر خطرونه څرګند کړل چې ښځې ورسره مخ دي. د ښځو لپاره، په ځانګړې توګه د جنسي تاوتريخوالي قربانيانو ته، د حقوقي، طبي يا رواني حل ميکانيزمونو ته د لاسرسي نشتوالی، د دې ستونزې د حل لپاره يو جدي خنډ دی. د جنسي تيري قرباني ميرمنې په دوامداره توګه د ټولنيزې غندنې او د محاکمې له خطر سره مخ دي په دې چې دغه کار ناقانونه جنسي عمل ګڼل کيږي. په پايله کې، جنسي تاوتريخوالی پټ ساتل کيږي او په اړه يې لږ راپور ورکول کيږي.

۶۵. د تګلارو په پلي کولو کې د جنسيت په اړه د افغان حکومت پوهاوي ښه شوې، لکه څنګه چې د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژۍ او په افغانستان کې د ښځو لپاره د عمل ملي پلان سره سم د جنسيت له اړخه حساس پروګرامونو په اړه د څو نوښتونو څخه څرګنديږي. په هرصورت، په افغانستان کې د ښځو وضعيت په نړۍ کې تر ټولو ټيټ دی. د ميندو د مړينې کچه تر ټولو لوړه ده، اټکل کيږي چې په ځينو کليوالو سيمو کې په هرو ۱۰۰۰۰۰ ژونديو زيږونونو کې له ۶۵۰۰ څخه ډيرې ميندې ژوند له لاسه ورکوي. په ۲۰۰۷ کې، يوازې ۲۵.۷ سلنه زده کوونکې چې لومړنۍ زده کړې يې بشپړې کړې، نجونې وې، او رجحانات ښيې چې په ښوونځي کې د نجونو تناسب مخ پر کميدو دی. د کارموندنې په برخه، په ځانګړې توګه په ملکي خدمتونو کې د ښځو ونډه چې په ۲۰۰۵ کال کې ۲۵.۹ سلنې وه، په ۲۰۰۷ کال کې ۲۲ سلنې ته راټيټه شوه. افغانستان د هغو لاسته راوړنو د لاسه ورکولو له خطر سره مخامخ دی چې د ښځو او نجونو د هوساينې او وضعيت د ښه کولو لپاره تر لاسه شوي دي.

**ب: د ملکي وګړو ساتنه**

۶۶. د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر د مياشتې څخه بيا د دسمبر تر مياشتې پورې، يوناما ۶۲۶ د ملکي تلفاتو پېښې ثبت کړې دي، چې په ټول کال کې ۲۱۱۸ د ملکي تلفاتو پېښې جوړوي چې زياتره پېښې د هېواد په سهيل، سهيل ختيز او ختيز حوزو کې رامنځت شوي دي. دغه شمېره د ۲۰۰۷ کال په پرتله ۴۰ سلنه زياتوالې ښيي. په ۲۰۰۸ کال کې د ملکي تلفاتو لږ تر لږه ۵۵ سلنه د دولت مخالفو ډلو له خوا، او ۳۹ سلنه د نړيوال او افغان پوځي ځواکونو له خوا تر سره شوي دي، او د ملکي وګړو د تلفاتو پاتې ۶ سلنه د جګړې د هيڅ يو خوا ته نسبت ندی ورکړ شوی دی.

۶۷. د دولت مخالفين د ملکي وګړو د تلفاتو زيات شمېر پېښو مسوليت لري چې په خپل تاکتيکونو کې د ملکي وګړو ژوند ته د نه پام او اعتنا ښکارندوی دی. د دولت مخالفو ډلو لخوا د ملکي وګړو په وژنو کې زياتوالې راغلی چې په ۲۰۰۷ کال ۷۰۰ د وژلو پېښې وي او په ۲۰۰۸ کال کې ۱۱۶۰ د وژلو پېښې ثبت شوي چې تر ۶۵ سلنه زياتوالی ښيي. له بلې خوا حکومت پلوه ځواکونه په خپل تاکتيکي دايرکيفونو او نور تدبيرونو کې بدلون راوړي تر څو پر ملکي وګړو باندې د امنيتي عملياتو ناوړه اغيزه

کم کړي، چې د بدلون هرکلی کیږي. که څه هم، د ملکي وګړو د تلفاتو راپور دوام لري، چې ویل کیږي یوازې د حکومت پلو ځواکونو یوازې د ترسره شویو هوایي بریدونو له امله، د دا ډول تلفاتو کچه ۶۸ سلنه تخمین شوی دی.

۶۸. ملکي وګړي، د ملکي تلفاتو بر سیره کوم چې په نېغه د وسله والو شخړو له امله رامنځته شوی دی، دوې همدارنګه ژوبل کیدو، ګواښ، ارعاب او همدارنګه د ژوندانه معیشت له لاسه ورکول، په زوره بې ځایه کیدل او د ملکیت د تخریب ناښوالي هم زغملې دي.

۶۹. یوناما په پرله پسې ډول سره د ماشومانو د حقونو څخه د سختو تېریو په راپور ورکولو او څارنه کې، د امنیت شورا د ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) پریکړې پر بنسټ، مرکزی ونډه لوبوي. د جګړو په تشدید سره ماشومان په پرله پسې ډول سره قرباني کیږي. داسې تورونه شتون لري چې مخالف وسله والې ډلې، د هېواد په سهیل، سهیل ختیز او ختیزو سېمو کې ماشومان په دنده ګماري. همداراز ماشومان د افغانستان د قانون د تنفیذ ادارو او همدارنګه د نړیوال پوځې ځواکونو له خوا، د مخالفو وسله والو ډلو سره د تړون په تور نیول شوي، ګرفتار شوي او توقیف شوي دي.

۷۰. د تېر کال په پرتله پر ښوونځیو باندی د بریدونو شمېر کې زیاتوالی راغلی دی، د ۲۰۰۸ کال د نومبر په میاشت کې د زړه بوګنوونکې پېښې په ګډون په کوم کې چې طالب وسله وال د نجونو یوه ډله چې د ښوونځې په لور روان وو، پر مخونو باندې تیزاب و پاشل. د ۲۰۰۸ کال د جنوری د میاشتې څخه بیا د نومبر تر میاشتې پورې، د ښوونځیو پر خلاف ۲۷۵ بریدونه ثبت شوي دي چې له امله يې ۶۶ تنه وژل شوي او ۶۴ تنه نور ژوبل شوي چې زیاتره برخه يې ماشومان دي.

**نهم: د بشرپالنې وضعیت**

۷۱. د جګړې اغیزه بنسټیزو خدمتونو ته لاسرسي کم کړی دی، او د معیشت بدیل او د هغه لپاره د مبارزی میکانیزمونه يې اغیزمن کړي دي، همدارنګه دا د بشری مرستو د موسسو لپاره ننګونې زیات کړي دي، کوم چې هڅه کوی چې د وګړو اړتیاو ته رسیدګې وکړي. هغه جغرافیایي سېمې کوم چې یو وخت د لاسرسی وړ وو، اوسمهال د بشري مرستو زیاتو موسسو لپاره د لاسرسي وړ ندي. د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په میاشت کې ما پریکړه وکړه چې، د بشري ناوړه وضعیت په پام کې نیولو سره، په افغانستان کې د بشری مرستو د همغږې دفتر رامنځته کړم. دغه نوي دفتر د هېواد په کچه د ملګرو ملتونو د ډلی غړی دی او زما د ځانګړي استازی د مرستیال له طریقه، کوم چې د ملګرو ملتونو د بشری مرستو د همغږی کوونکي په صفت دندنه ترسره کوی، ته راپور ورکوي. د بشري مرستو د همغږی وقف شوی ظرفیت، د ملګرو ملتونو د بشری مرستو د چارو د همغږی دفتر په هېواد کې د ملګرو ملتونو د بشرپالنې غبرګون په اړوند ننګونو ته رسیدګې کوي، چې د موجود بشری مرستو د همغږې پر جوړښتونو په دوام کار کوي.

۷۲. د ملګرو ملتونو د بشری مرستو د همغږی د چارو د دفتر تر ټولو بېړنې لومړیتوب د بشری مرستو د عمل پلان د طرحی تسهیلول دی، چې د ۲۰۰۲ کال را پدېخوا لومړی د عمل پلان دی، او د جنوري په میاشت کې د بشپړ او ډونرانو ته وړاندي کړل

شو. په دغه پلان کې د وړاندې شویو پروژو ارزښت ۶۰۴ ملیون ډالر دی چې د هغه زیات شمېر د ملګرو ملتونو پرته، د نورو همکارانو پروژې دي. د ۲۰۰۸ کال د جولاي په میاشت کې ۴۰۴ ملیون امریکایي ډالر د افغانستان ګډ ببړنۍ غوښتنه، د خوراکي توکو د لوړو بیو او وچکالۍ ناورین ته درسیدګۍ په خاطر، د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو له خوا په ګډه لاري ته واچلول شو تر څو کابو ۲ ملیون وګړي ته مرستې چمتو کړي. دغه غوښتنه، په تاءسف سره چې یوازې ۵۰ سلنه مالي مرسته تر لاسه کړې، او اوسمهال د بشري مرستو د عمل پلان د هغه ځای ناستې دی.

۷۳. د لږ ورښت له امله، د ۲۰۰۲ کال راپدیخوا، سږ کال کې د غله دانو تولیدات تر ټولو لږ وو، او تر پنځه ملیونه زیات وګړي د خوړو ببړنیو مرستو ته اړتیا لري. کابو ۱،۲ ملیونه تر پنځو کلونو کم عمره ماشومان او ۵۵۰۰۰۰ امیدواره او یا شیدې ورکوونکې میندي، په ۲۲ ولایتونو کې، د حاد خوارځواکۍ سره مخ دي. همدارنګه د اوبو کمښت هم کیدای شي د زیامنو کسانو د بې ځایه کیدو لامل شي. د ملګرو ملتونو موسسې تر ۸۰۰ زیات د اوبو رسولو سرچېنې ببرته راستنېدونکو او د وچکالۍ اغیزمن سېمو ته جوړ کړیدي. د ژمې سره د مبارزې هڅې د خوراکي او غیر خوراکي توکو د له مخکې ځای پر ځای کولو او رسولو له لاري دوام درلود. د ۲۰۰۹ کال تر جنوري میاشتې پوري نړیوال خوراکي پروګرام خپل د پلان شوي مرستو ۹۸ سلنه مخکې له مخکې ځای پر ځای کړی تر څو په ۲۴ ولایتونو کې ۹۶۳۰۰۰ ګټه اخیستونکو سره مرسته وکړي او همدرانګه د ملګرو ملتونو د کډوالی لپاره د عالی کشمنر دفتر ۲۱۲۰۰۰ زیامنېدونکې ببرته راستنیدونکو او همدارنګه داخلي بې ځایه شویو کسانو ته چمتو کړي دي.

۷۴. په ۲۰۰۸ کال کې لږ تر لږه ۲۷۸۰۰۰ ثبت شوي مهاجرین ببرته افغانستان ته راستانه شوي او د ملګرو ملتونو د مهاجرینو لپاره د عالی کمشنری دفتر له خوا مرستې تر لاسه کړیدي او د دوي ۹۸.۵ سلنه د پاکستان د هېواد څخه ببرته راستانه شوي دي. لږ تر لږه د ببرته راستنیدونکې ۱۰ سلنه د ناامنیو، ټولنیز اقتصادی ستونزو او د ځمکو پر سر د شخړو له امله خپلو اصلي ټاټوبو ندې تللې. د ۲۰۰۸ کال د نومبر په میاشت کې د افغانستان حکومت د ملګرو ملتونو د مهاجرینو لپاره د عالې کمشنری دفتر سره په ګډه، د افغانستان د ملي پراختیا ستراتېژي که د مهاجرینو او ببرته راستنیدونکو او داخلې بې ځایه کسانو سکتور ستراتېژی په لاره اچولې دي او په دغه ډګر کې د لا زیات پانګونې ملاتړ غوښتنه کړی تر څو په راتلونکې پنځو کلونو کې د وګړو خوځښت باثباته شي.

۷۵. وروسته له هغه چې د ۲۰۰۸ کال په دسمبر میاشت کې د داخلې بې ځایه شویو کسانو لومړی ملي پروفایل بشپړ شو، اړتیا ده یو ملي ستراتېژې طرحه شي تر څو د ۲۳۰۰۰۰ څخه زیات تثبیت شوي داخلې بې ځایه شوی کسانو ملاتړ وکړي. لږ تر لږه په ۲۰۰۸ کال کې ۶۰۰ کورنې ببرته خپلو اصلي ځایونو ته تللی دي. د نا امنیو د زیاتېدو په پام کې نیولو سره د لا زیات بې ځایه کیدو لپاره د بین الموسسې ببړنۍ پلان جوړونه په ۲۰۰۹ کال کې به مهم وي.

۷۶. د روغتیا نړیوال سازمان د ناروغیو د وختې خبر ورکولو سیستم ملاتړ کړی چې د شدیدو ناروغیو لکه کانګو، نس ناستې تبه او کولرا په ګډون، تشخیص کړی او غبرګون ښودلې دی کوم چې د ټېټې کچې مړینو قضیو لامل شوی دی. د ملګرو ملتونو د ماشومانو لپاره د وجهې صندوق توانیدلی دی چې د ماشومانو د ژوند او روغتیا په ډګرونو کې پروګرامونه زیات کړی او د ځایې همکارانو او حکومتې شریکانو سره یو ځای د ملیونونو ماشومانو سره مرسته وکړي. د واکسینونو کمپاین دوام درلود. تر دې دمه، د دې با وجود چې د ملي معافیت ورځې دورې په مرکزی او ولایتې کچو کې په تکرار سره ترسره کېږی، د پولیو ناروغي اوس هم د یو ځایي ناروغی په ډول پاتې دی ځکه چې په هېواد کې نا امنې ده او ځېنو سېمو ته محدود لاسرسی شته. په نا امنه

سېمو د پولیو د واکسین د لاسرسی په خاطر نوښتګرې تګلارې څخه کار اخیستل شوي دي. د ایساف سره په همغږی کې، د جګړو په سېمو کې د نسبتاً ارامو دورو پر مهال، د ماشومانو د واکسین کولو فرصت چمتو شوی دی. نړیوال روغتیایي سازمان په پراخه پیمانه د ځایي همکارانو څخه په ګټې اخیستلو سره، د واکسین کمپاینونه پلي کړي دي.

۷۷. ماشومان په پر له پسې توګه په سهیل او سهیل ختیزو سیمو کې د مخالفو ډلو د رواني جګړې په منځ کې بند پاتې شوي پداسې حال کې چې د شمال ختېز، لویدیځ او مرکز سېمو کې په نابرابره جګړه کې بند پاتې دی. د ماشومانو پوهنه، په ځانګړی ډول د نجونو پوهنه، د طالبانو په منځ کې د غیر اسلامي عمل په توګه لیدل کیږی، چې له امله یې ماشومان په یوه نښه بدلیږي. د ۲۰۰۸ کال د سپتمبر په میاشت کې مخالفینو د ۱۰۰۰۰۰ څخه زیات د ښوونځې کتابونه چې کندهار ته استول کیدل، وسوځول. همدارنګه د پوهنې ټولنه په دوامداره توګه د تاوتریخوالي څخه رنځ وړي. د ۲۰۰۸ کال د جون د میاشتې څخه تر دسمبر تر میاشتې پوري د ۲۰۲ پېښو له امله ۸۳ تنه وژل شوي او ۱۶۴ تنه ژوبل شوي دي.

**لسم: د ماموریت عملیات او ملاتړ**

۷۸. د یوناما د ماموریت د غځېدو او د دندو د لا پسې ښه کولو په پایله کې، عمومي اسامبله موافقه وکړه چې په ۲۰۰۹ کال د ماموریت بودجه ۹۱،۵ سلنه زیات کړي چې له امله یې د نړیوالو کارکوونکو په شمېر کې ۱۱۵ تنه، د داخلي افسرانو په شمېر کې ۵۷ تنه، په داخلي ملاتړ کارکونکو په شمېر کې ۲۴۹ او د ملګرو ملتونو د رضاکارانو په شمېر کې ۱۶ اضافه شول. همدارنګه د بودجې د دغه زیاتوالی له امله په ۲۰۰۹ کال کې څلور نور ولایتي دفترونو په غزنې، سرپل، هلمند او فراه په ولایتونو کې پرانیستل شول. د بغلان په ولایت کې یو نوی دفتر په کال ۲۰۰۸ کې پرانیستل شو. د واروزګان په ولایت کې د یوناما ولایتي دفتر کوم چې باید په ۲۰۰۸ کال کې پرانیستل شوي واي، په نږدی وختونو کې به پرانیستل شي. د ۲۰۰۹ کال تر پایه پوری یوناما د ۸ حوزوی دفترونو په ګډون، ۱۵ ولایتي دفترونه به هم ولري. د اسلام آباد او تهران کې د یوناما د اړیکو دفترونه، په ۲۰۰۹ کال کې د بودجې زیاتوالی د یوناما د اړیکو دفترونو د پیاوړتیا لامل هم شي، په سېمه ییز بُعد کې خپل فعالیت او ملاتړ ته دوام ورکړي.

۷۹. ټول حوزوي او ولایتي دفترونو باید، په ځانګړي ډول د برېښنا د تولید، اوبو ته لاسرسی، اړیکې او معلوماتي ټکنالوژی او د وسایطو د تیلو د مصرف له پلوه، خود کفا واوسي. د کال په لومړي برخه کې د دغو دفترونو رامنځته کول، د یوناما د ملاتړ خدمتونو باندی ستر تمرکز وي. همدرانګه د ماموریت د جغرافیایي غځېدل د لا زیات اداری او تخینکي کارکوونکو د ګمارلو غوښتنه کوي چې په ځایی سېمه کې د انجینری، ترانسپورت، امنیت، اړیکې، معلوماتي ټکنالوژی او د نغدو پیسو جریان ملاتړ وکړي.

۸۰. د ماموریت دغه پلان شوي غځېدل د دې اړتیا لامل شوي چې په ۲۰۰۹ کال کې د هوايي ملاتړ خدمتونو لا پسی زیات شې ځکه ولایتي دفترونه هغو ته اړتیا لری، د دې په پام کې نیولو سره چې د امنیتي وضعیت له امله ځمکنې ماموریتونه کم شوي، او په ځېنو سېمو کې د ژر لاسرسی په خاطر، د بړیښې طبي تخلېې او یا د کارکوونکو ځای بدلولو په موخه، هوايي ملاتړ ته اړتیا شته.

۸۱. په پای کې، د کارکوونکو زیاتوالې، د ماموریت د کادر او پرسونل پر دفتر باندي ستر اضافي بار اچوي. د ۲۰۰۸ کال په آخر کې، د مرکز حوزوی ملاتړ ریاست یوناما ته د دریو میاشتې په خاطر یوه کاری ډله واستوله چې په ګمارنو کې دوي سره مرسته وکړي. د ۲۰۰۸ کال د اپریل او دسمبر د میاشتې په منځ کې، د دې په خاطر چې ګمارل لومړیتوب او صلاحیت ورکول هم ترلاسه شی، یوناما وتوانیدل چې خپل د کمبودو کارکوونکو کچه د ۳۰ سلنې څخه ۱۰ سلنې ته را ټیټ کړي. د کال په پای کې د فرسایش کچه هم ښکاره کوي چې د تېرو کلونو په پرتله کمه شوی ده او دا تر یوې کچه پورې د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کې د افغانستان لپاره د نړیوال کارکوونکو ته د ټولنېز مدد معاش د ترلاسه کولو ته نسبت ورکول کیدای شي.

**یوولسم: سپارښتنې**

**۸۲. څرنګه چې ما په خپل راپور کې، د جون په میاشت کې د افغانستان لپاره ملاتړ پاریس کنفرانس (S/2008/434) څخه وروسته لیکلې و، زه په دې باور یم چې د یوناما ماموریت ټول هغه رسمي جزیات له ځانه سره لري کوم چې په افغانستان کې د همغږي لپاره مرکزی ونډه ولوبوي. د ۲۰۰۹ کال بودجه کوم چې د عمومي اسامبلې له خوا تایید شوي د ماموریت ظرفیت زیات کړي تر څو ماموریت خپله دنده پلې کړي. نو ځکه زه وړاندیز کوم چې اوسنې ماموریت چې د امنیت شورا د (۲۰۰۸) ۱۸۰۶ ګڼه پریکړه لیک پر بنسټ د ۲۰۰۹ کال د مارچ د میاشتې تر ۲۳ نېټې پورې غځول شوي و، د راتلونکې ۱۲ میاشتو لپاره بیا تمدید شي. دا روښانه ده چې په راتلونکو میاشتو کې د ټاکنو پروسه په ځانګړي ډول د اهمیت وړ دی. د تخنیکې مرستو د چمتو کولو او د ډونرانو د همغږي برسېره، د یوناما د ۲۰۰۹ کال بودجه، د سیاسې برخې د ټولټاکنو څانګې ته دا امکان ورکوي چې د سیاسې ګوندونو، مدنې ټولنو، کاندیدانو او نور سیاسي فعالینو، او د سیاسې ګوندونو د مشرانو او کاندیدانو سره کار کوي تر څو د سیاسې حقونو تعمیل تایید کړی، د ټاکنو د مسلو په اړوند د ښه نیت دفترونو له لاري منځګړیتوب چمتو کړي. د دا ډول فعالیتونو په ترسره کولو سره یوناما به خپل عمل په بېړی ډول سره ادامه ورکړي، د نړیوالې ټولنې د هڅو مشری وکړي، چې موخه یې د یو ړون، شفافه او د باور وړ ټاکنې ډاډمن کول دی.**

**۸۳. کله چې ما د فبروری په میاشت کې د کابل څخه لیدنه وکړه، یادونه وکړه چې ۲۰۰۹ کال د افغانستان لپاره به یو مهم کال وی. د ټولټاکنو سیاست د هېواد له مخکې سیاسې ماتیدونکې وضعیت و آزمایې، نا امنې، د زیاتو مخورو په وینا، د ښه کیدو پر ځای لانوره به هم خراب شي. دا زما نظر دی. ما ولسمشر کرزی ته ډاډ ورکړ چې نړیواله ټولنه د افغانانو سره یو ځای کار وکړي تر څو د خپل هیواد امنیت ښه کړی، خپل اقتصادی وضعیت ته او سیاسې نهادونو ته په بشپړ ډول سره وده ورکړي.**

**۸۴. زه د افغان او نړیوال همکارانو تر منځ د توضیح شوی ستراتیژی باندی باور لرم کوم چې د ۲۰۰۸ کال د جون په میاشت کې د افغانستان د حکومت او د ۹۰ تنو ډونراو له خوا په پاریس کې تایید شو. په لنډ ډول سره، دغه ستراتیژی افغانې کول او منطقی کولو ته لومړیتوب ورکوي. کرهنه، انرژی او د زیربنا سکتورونه د لومړیتوبونو په ډول تشخیص شوي دي. د مرستو د اغیزمنتوب اصول، چې پیسی په څه ډول مصرف شوي او د اداري فساد په وړاندې پیاوړی مبارزې په ګډون، دا ډاډمنوي چې د مرستو سر چېنې په معقول ډول سره مصرف شوي دي. او په پای کې، ظرفیت جوړونه او پر پروګرام جوړولو باندې د افغان بودجه کارول پر پروسه باندي د افغانانو مالکیت خوندي کوي. همدارنګه دغه ستراتیژی**

د نوي يو موټي او پرمختللی تګلاري لپاره هم زما د ځانګړي استازی له خوا کارول کيږي د دې واقعيت پر بنسټ چې د افغانستان بيلابيل حوزی د حکمومتوالي، د مرستو جذب او هغه ته لاسرسي بيلابيل وضعيت لري نو ځکه د بيلابيل فعالينو لپاره د بيلابيلو تګلارو غوښتنه کوي.

۸۵. زه پدې مشغوف شوي يم چې د بيلابيلو غړو هيوادونو او سازمانونه بيلابيل ستراتيژيکانې باندي بياکتنه کوي او ظاهراً داسی ښکاري چې د داسي پاليسيو او د سر چېنو اختصاص لامل شي چې په عمومي ډول په پورته کې توضيح شوي ستراتيژی سره سمون ولري.

۸۶. موږ بايد داسي و انګېرو چې په راتلونکې ټولټاکنو کې سيالی به ډير کوټلی وي. دا په خپل ذات کې يو پرمختک دی، که څه هم دا د افغانستان د اساسي قانون حکم او نظم آزمايي. دغه آزمايښت د ټولټاکنو په بحثونو کې ښه روښانه شو ځکه چې ټول خواوي د اساسي قانون پر دلالت باندي قوي دلايل وړاندي کول. بلاخره د اساسي قانون هر حکم د دا ډول پېچلې وضعيت سره مخ کيږي خو اساس قانونونه داسی تنظيم شوي دي چې بايد پر دا ډول وضعيت باندي بريا تر لاسه کړي. اوس مهال په افغانستان کې تر دې ستر مسؤليت نشته چې د افغانستان دولت دريګونه څانګې د اساسي قانون داسی مسلو ته يو داسې د حل لاره وموې کوم چې، د مي د مياشتې په ۲۲ نېټه د ولسمشري د نوي دوری د پرانيستلو کې، د موجوده حکومت موجوديت او فعاليت ډاډمن کړي. د هېواد سياسې مشران بايد د خپل هيواد سياسې ټيکاو د خپلو محاسبو په مرکز کې ځای ورکړي څرنګه چې دوي په تېرو ۷ کلونو کې او په سختو شيبو کې داسي کړي دي.

۸۷. ممکنه ده د ۲۰۰۹ کال د اګست د مياشتې په ۲۰ نېټه د ټولټاکنو لپاره تياري د سختو جګړو په موده کې به ترسره شي. د لومړي ځل لپاره د ټولټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو د مديريت په خاطر د لومړي مسؤل نهاد په ټګه عمل کوي چې مالي او تخنيکي ملاتړ يې د نړيوالې ټولنې له خوا چمتو کيږي. په حقيقت کې د رايو ورکونکو د ثبتولو پروسه چې په بريالی سره او د جدي پېښو پرته ترسره شوه، حتی د هېواد په زيات حساسو سېمو کې، يوه مثبته پېښه ده او بايد دوام وموي. د افغانانو په فکر کې هېڅ ډول شک نشته چې ټولټاکنې به په خپل وخت کې ترسره شي. دغه ټولټاکنې بايد په يو امن فضاء کې ترسره شي تر څو د بيان او رسنيو آزادی او ټوليدو حق، کوم چې د ديموکراسی اړتياوي دی، څومره چې ممکنه وي ډاډمن شي.

۸۸. پداسې حال کې چې زيات دلايل شته چې امنيتي وضعيت په ۲۰۰۹ کال کې به لا پسی خراب شي، خو په ورته حال کې د منځنې کچې خوش بينې لپاره هم دلايل شتون لري. د نړيوالو ځواکونو اضافي منطقې ځای پر ځای کيدو، چې د هغه لومړنی موخه افغان وګړو ته د امنيت خونديتوب کول دی، به يو ښه پرمختګ وي. دغه کار به د افغان امنيتي ځواکو لپاره د ښوونکو شمېر زيات کړی، تر څو د ټاکنو چاپېريال لا خوندي کړي، د حکومت واک ځواکمن کړي تر څو وکلای شي په ټينګ باور سره ډيالوګ په لاره واچوي چې موخه يې د دولت مخالف عناصر سياسي پروسې او مصالحې ته را وغواړي او تاوتريخوالی بند کړي. زه د افغان حکومت د دفاع وزير او د ايساف قومندان تر منځ د توافق هرکلی کوم چې موخه يې د ملکې وګړو د تلفات کمول دی. د دا ډول عملی ګامونو اخيستل ستر تاييد رامنځته کوي چې د ملکي وګړو تلفات ډېره سخته ته چې له پامه وغورځول شي. زما ځانګړي استازی په دغه کار کې ډير فعاله ونډه لوبولې چې دا موضوع را پورته او د هغه لپاره حل لاره و مومي او دغه کار به دوام ورکړي. له بلې خوا دا روښانه ده چې د ملکې تلفاتو زياته برخه د مخالفينو د اقداماتو له امله دی ځکه د دوي بريدونه ښکاره کوي چې دوي د ملکي وګړو تلفاتو ته ډېره پاملرنه نه کوي.

۸۹. دا ډېره آسانه او په زړه پورې ده چې له پامه وغورځول شي، د تاوتریخوالی او بې ثباتۍ په راپورونو کې، په افغانستان کې د پرمختګ کلیدی سېمې، چې کولاي شي د فرصتونو کوچنۍ فرصت برابر کړي، دغه فرصت باید له لاسه ولاړ نشي. په تېره ۶ میاشتو کې په دغه ډګر کې پرمختګ د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې ټولیزو هڅو له امله ده چې د ګډو مخو لپاره کار کوي. په زیاتو ډګرونو کې، دا هڅې په پورته کې یاد شوي ستراتیژۍ دقیق عملی کول دی.

۹۰. لومړي، د امنیت په سکتور کې، د کورنیو چارو نوي وزیر په فعاله توګه د دغه وزارت او د پولیس په صفوفو کې سمون راوړي دی. اوسمهال افغان امنیتی سکتور وزیران په اغېزمنه او پراخ پیمانه یو بل سره همغږی کوي او په بریالیتوب سره د تروریستی اقداماتو څخه، مخکې لدې چې عملی کړی، مخنیوي کړي دی. دغه جریان باید دوام وکړي په ځانګړي ډول د پولیسو ځواکونو لپاره د لا زیاتو رهنما استازانو ډله په چمتو کولو سره.

۹۱. دوهم، په ۲۰۰۹ کال کې د کوکنارو د تولید په اړوند وړاندوینې ښکاره کوی چې ۲۰ تر ۳۰ سلنه نور ممکن کمښت او د کوکنارو څخه د خلاص ولایتونو په شمېر کې بلاقوه زیاتوالی تمه کیږي. په زیات شمېر ولایتونو کې د والیانو پریکنده اقدامات د دغو پرمختګونو د تحقق لامل شوي دي. د والیانو لپاره د ښه نوښت، هغه میکانیزم چې د دغه بریالیوتبونو په دوام رامنځته شوی، یو تر ټولو ښو لارو څخه دی چې د کوکنارو کښت کم کړای شي. خو په تاءسف سره یوازی څو تنه ډونران دغه میکانیزم سره مالی مرسته کړی ده او د نورو څخه د لا زیات ملاتړ ته اړتیا لري. که چېرې وړاندوینه په حقیقت بدل، د ۲۰۰۹ کال، د پنځو کلونو ثابت زیاتوالې وروسته، دوهم کال دی چې په هغه د کوکنارو د کښت کمښت موندلی دی.

۹۲. د کرهنې نوی وزیر هوډ لري چې د زراعتي محصولاتو تولید زیات کړي او په دغه هېر شوي سکتور کې خوځښت راولي. موږ ولیدل چې په ډول د روغتیا او پوهنې هوډمن وزیران، د نړیوال په ملاتړ سره، کولای شوي په افغانستان پایله لرونکې اقدامات وړاندی کړي. د کرهنې، سوداګری او مالیې نویو وزیرانو سره، زه اطمینان لرم چې د حکومت اقتصادی ټیم په زیات اغېزمن او منسجم ډول سره به کار وکړي. دا به د افغان ستراتیژۍ ګانو د لازیات اغېزمن پلې کول او همدارنګه اقتصادي وده ځواکمن کړي.

۹۳. یو کس باید د افغانستان په سهیل کې بې د ثباتۍ ناوړه راپورونو لاندنی وګوری چې دا ډول مثبت پرمختګونه، نه اتفاقي دي او نه هم د پامه غوځورل کیدای شي. بلکې دا افغانستان په اړوند همغږه شوي فکرونه دي کوم چې د پاریس په کنفرانس معقول بڼه اختیار کړي، او وروسته تر کافی فشار لاندی و چې د پاریس ژمنې پلې شي. دا ډول معتدل خو واقعی پایلی زموږ په ستراتیژۍ کې زما د باور سرچېنه ده.

۹۴. د ملګرو ملتونو لپاره تېر کال یوناما لپاره یو ښه کال و تر څو هغه تمې چې د دغه ماموریت څخه کیدل، ترسره کړي. زما ځانګړي استازی، چې د یوناما مشر هم دی، تایید کړی چې ماموریت د ۲۰۰۹ کال تمې ترسره کوي. زه د عمومي اسامبلی څخه مننه کوم چې دا پې درک کړی دی چې دا کار کافی زیات سرچېنو ته اړتیا لري.

۹۵. د یوناما کارکوونکې د دغه ماموریت کلیدی سرمایه ده. ز د دوی ژمنتیا، کار او زیار ستایم. زه همدارنګه د ماموریت د ټولو همکارانو څخه، د هېواد په کچه د ملګرو ملتونو ډله او نور مرستندوی موسسې په ګډون، هم مننه کوم. په پای کې زه خپل ځانګړی استازی کای آیده څخه د هغه د وقف، استقامت او فراست په خاطر ، غړي هېوادونه او نور نړیوال سازمانونه د هغو د دوامداره ملاتړ له امله چې د ماموریت کار ته چمتو کړی دی، خپل د قدردانی مراتب وړاندی کوم.